AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویگ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۷/۲۰

# د افغانستان بایوگرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
(یوسلاو شپاړلسمه برخه)

### محـمـد هاشم زماني

د امیر امان الله خان د مهال د جنرال او د کونړ د خان میر زمان خان زوی په ۱۹۲۹ز کال کې په کونړ کې زېږېدلی دئ. خصوصي زده کړې ئـې کړي دي. له پلار وروسته ورته قومي مشري پاتې سوه. له خپلي کورنۍ سره په دې شک زنداني سو چي ګنې د صافیانو د پاڅون تر شا ددهٔ لاس وو. دیارلس کاله ئـې د دهمزنګ په زندان کې تـېر کړل. هرات لاړ او هلته مخفي سو. د صدراعظم محـمـد یوسف پر مهال ورته اجازه ورکړل سوه چي له خپلي کورنۍ سره کونړ ته ستون سي. واک ته د مارکسیستانو له رسـېدلو وروسته د خلقیانو پر ضد ئـې منظم مخالفت سمبال کړ. د جبهـهٔ متحد ملي استازی.

### ډاکټر ضامن علي

د جنرال نادر علي هزاره زوی. د استقلال په لیسي او د کابل پوهنتون د طب په پوهنځي کې ئـې تحصیلات کړي دي. له ۱۹۷۴ تر ۱۹۷۷ز کال پوري د علي آباد، د روغتیا د ټولني، رئـیس. له ۱۹۷۷ تر ۱۹۷۸ز کال پوري د کابل پوهنتون مرستیال رئـیس. په ۱۹۷۹ز کال کې ونیول سو او ووژل سو. د «وحدت ملي» د ګوند یو له بنسټ ایښودونکو څخه.

### ډاکټر سید میر شاه ذره

په ۱۹۸۰ز کال کې د روغتیا د وزارت لومړی مرستیال وزیر. د انقلابي شورى غړی. د خلق ډیموکراتیک ګوند د مرکزي کـمېټي علی البدل غړی. د افغانستان دډیموکراتیک جمهوریت د سولي، پیوستون او د ملګرتوب د سازمان مرستیال رئـیس او وروسته ددي سازمان رئـیس. د باختر د اطلاعاتي آژانس رئـیس.

### ډاکټر عزیز الله زارع

د ډیپلومات رحمت الله زارع زوی په ۱۹۴۱ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۶۱ز کال کې د نجات له لیسي څخه فارغ سوی او په ۱۹۶۶ز کال کې ئـې د کابل له پوهنتون څخه د اقتصاد دیپلوم تر لاسه کړی دئ. له ۱۹۶۹ تر ۱۹۷۰ز کال پوري په کابل کې د ګویته انستیتیوت ته تللی دئ او ورپسي جرمني ته لاړ او هلته ئـې د بن له پوهنتون څخه خپل دیپلوم په اقتصاد کې او په ۱۹۷۹ز کال کې ئـې خپله دکتورا تر لاسه کړه. په ۱۹۶۱ او ۱۹۶۲ز کال کې ئـې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

د کابل په هوختیف کې د ژباړونکي په توګه کار وکړ. له ۱۹۶۶ تر ۱۹۶۷ز کال پورې د مکلفیت دوره تېره او د بریدمن تر رتبې ئې ارتقاء وکړه. له ۱۹۶۷ تر ۱۹۶۹ز کال پورې د کابل پوهنتون کې د اقتصاد اسیستانت. له ۱۹۸۰ تر ۱۸۹۲ز کال پورې ئې په جرمني کې په بېلابېلو څېړنو کې د اسیستانت توب کار پرمخ وړی دئ. د وریښمیني په نوم له یوې ،ځاځی، سره ئې وادهٔ کړی او دوه بچیان لري. مورنی ژبه ئې پښتو ده.

## ډاکټر ګل جانان ظریف

د څُجَن خان ظریف زوی په ۱۹۴۴ز کال کې په ،رزمک،[1]کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۶۲ز کال کې په کابل کې د خوشحال خان له لیسې څخه فارغ سوی دئ. وروپسې جرمني ته لاړ او خپله دکتورا ئې په ۱۹۷۲ز کال کې د فرانکفورت د ،جوهان ولف ګنګ ګویته، [2] له پوهنتون څخه ترلاسه کړه.

## محـمـد فرید ظریف

په ۱۹۵۱ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. د کابل پوهنتون او د آکسفورډ له پوهنتونونو څخه فارغ سوی دئ؛ په آکسفورډ کې ئې د یوهٔ سکالرشیپ پر بنسټ تحصیل وکړ. په ۱۹۷۴ز کال کې د باندنیو چارو د وزارت کارمند وو. د سویلي او سویل ختیځې آسیا د دیپارتمنت مرستیال مدیر. په هاوانا کې د افغانستان د سفارت لومړی سکرتر. په ملګرو ملتونو کې د افغانستان د ډیموکراتیک جمهوریت ددائمي استازیتوب سلاکار. په ملګرو ملتونو کې د افغانستان د ډیموکراتیک جمهوریت د مأموریت شارژدافیر. د ۱۹۸۱ز کال د نوامبر له میاشتې راهیسې په ملګرو ملتونو کې د افغانستان سفیر. وادهٔ ئې کړی او دوه بچیان لري.

## مولوي عبدالجمیل ظریفي

،د غوایي له پاڅون وروسته، د مزار د ولایت د اوقافو او اسلامي چارو د ریاست رئیس.

## محـمـد یعقوب زرین خیل

،د غوایي له پاڅون وروسته، د عدلیې د وزارت د امنیتي محکمې رئیس.

**سید امیر شاه ذره** : وګورئ : ذره

## سپوږمۍ زریاب

په ۱۹۴۹ز کال کې په کابل کې زېږېدلې ده. د لیسې د دورې له فراغت وروسته د کابل پوهنتون د ادبیاتو له پوهنځي څخه د فرانسوي په ادبیاتو فارغه سوې ده. په فرانسې کې ئې هم تحصیل کړی دئ. د استقلال په لیسې کې د فرانسوي ژبې ښوونکې. د لنډو داستانونو لیکواله چې د سپوږمۍ رؤوف په نوم خپارهٔ سوي دي. ،د پردي/ بیګانه، [3] په نوم رسالې ئې منښت او قدر وموند.

[1] -Razmak
[2] -Johann Woflgang Goethe University
[3] -The Stranger


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

## محمد عظیم زایر

د کاپیسا په کوهستان کې زېږېدلی دئ. د کابل دارالمعلمین ئې لوستی دئ. خپل لیسانس ئې د کابل له پوهنتون څخه تر لاسه کړ او هم ئې د انګلستان په لندن کې تحصیل کړی دئ. د ټولنې د پرمختګ مدیر [4] د کابل پوهنتون د ښوونې او روزنې د پوهنځي استاد. وفات سوی دئ.

**زیری** : وګورئ : زیری

## سمیع الدین ژوند

د ښنتنو د صافي له قبیلې څخه دئ چې د ۱۹۳۳ز کال په شاو خواوو کې په لغمان کې زېږېدلی دئ. لیسه ئې په کابل او لغمان کې لوستې او په ۱۹۵۷ز کې ورڅخه فارغ سوی دئ. په ۱۹۶۰ز کال کې د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو له پوهنځي څخه ئې تحصیلي سند تر لاسه کړی دئ. د جیورج ټاون پوهنتون ته د ,,فول برایت سکالر" [5] او بیا په ۱۹۶۴ز کال کې د سویلي کالیفورنیا پوهنتون کې د فول برایت سکالر. په ۱۹۷۱ز کال کې د ,,آیزن هاور فیلو" [6] چې د امریکا د متحده ایالاتونو د فدرال او ایالتي مقننه سیستمونو کې ئې زده کړه وکړه. په ۱۹۷۲ز کال کې ئې د ویسکانسن په پوهنتون کې د قانون او پرمختګ په سیمینار کې ګډون وکړ. په ۱۹۷۶ز کال کې ئې د تکزاس په پوهنتون کې د نړۍ وال منجمنټ په برخه کې تحصیل وکړ. له ۱۹۶۰ تر ۱۹۶۱ز کال پورې د کابل په پوهنتون کې د جنایي قانون استاد. په ۱۹۶۲ز کال کې د کورنیو چارو په وزارت کې د څارنوال په دفتر کې. له ۱۹۶۴ تر ۱۹۶۵ز کال پورې دعدلیې په وزارت کې د لوی څارنوال یاور. په ۱۹۶۵ز کال کې لوی څارنوال. له ۱۹۶۷ تر ۱۹۶۸ز کال پورې د عدلیې د وزارت د تقنین د بورد غړی. له ۱۹۶۸ تر ۱۹۷۱ز کال پورې د عدلیې د وزارت د تقنین او د حقوقي مشورو د ریاست رئیس. په ۱۹۷۱ز کال کې د عدلیې د وزارت مرستیال وزیر. په ۱۹۷۳ز کال کې د عدلیې په وزارت کې د قضاء د عالي شورى غړی. له ۱۹۷۳ تر ۱۹۷۷ز کال پورې د عدلیې د وزارت مرستیال وزیر. د عدلیې وزارت، لوی څارنوال او لوی مدعي العموم. [7] په ۱۹۶۷ز کال کې د کابل ټایمز په کلنۍ کې ئې د افغانستان د قضائیي ریفورم په هکله یوه مقاله لیکلې ده. د ټاکنو/ انتخاباتو او قضایي قانونونه ئې انګلیسي ته ژباړلي دي. له مېرمن سلطنت اتمر سره ئې واده کړی دئ چې پینځه لوني او دوه زامن لري. اوس د امریکا په متحده ایالاتو کې ژوند کوي.

## ګل محمد ژوندی

د خیر محمد زوی په ۱۹۰۵ز کال کې د کابل په شور بازار کې زېږېدلی دئ. د کابل د حبیبیې په لیسې او د کابل په دارالعملمینو کې ئې زده کړې کړې دي. په ۱۹۲۱ز کال کې په مزار شریف او اندخوی کې سرښوونکی/ سرمعلم وو؛ همدا شان په ۱۹۲۹ز کال کې په قوچي کې سرښوونکی وو. د مطبوعاتو د ریاست د اصلاح په خپرونې کې د

[4] -Drirector Community Development
[5] -Fulbright Scholar
[6] -Eisenhower Fellow
[7] -Attorney General and Chief Prosecutor


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

لیکوال په توګه شامل سو؛ د اصلاح او انیس مصحح. په ۱۹۵۹ز کال کې د مطبوعاتو د ریاست د تفتیش د څانګي کارمند. شاعر او لیکوال.

## محمد دین ژواک

د غلام محي الدین زوی په ۱۹۱۹ز کال کې په کندهار کې زېږېدلی دئ. خصوصي زده کړې لري. په کندهار کې ئې د ښوونکو د روزني کورس ونیوئ. له ۱۹۳۸ تر ۱۹۴۸ز کال پورې په کندهار او کابل کې ښوونکی. له ۱۹۴۸ تر ۱۹۵۳ز کال پورې د دفاع په وزارت کې د پښتو ممتحن. په ۱۹۵۱ز کال کې د کابل راډیو کارمند. له ۱۹۵۶ تر ۱۹۵۸ز کال پورې د پښتو ټولني غړی. په ۱۹۵۳ز کال کې د «زیري» د ورځپاڼي او په ۱۹۵۶ز کال کې د «کابل» د ورځپاڼي محرر. د غوایي له پاڅون وروسته د علومو د اکاډیمی غړی.

## عبدالواحد ضیاء

د عبدالوهاب زوی. له ۱۹۵۳ تر ۱۹۵۵ز کال پورې او له ۱۹۶۰ تر ۱۹۶۳ز کال پورې ئې د وایومینګ په پوهنتون کې الکتریکل تکنالوژي لوستي او خپل لیسانس ئې تر لاسه کړی دئ. په ۱۹۷۱ز کال کې ئې د هاوایي له پوهنتون څخه خپله ماستري تر لاسه کړې ده. د کابل د انجنیری د پوهنځي مشر اسیستانت مدرس. د کابل پوهنتون د انجنیری د پوهنځي رئیس.

## سراج الدین ضیاء

د جلال الدین ناصري زوی په ۱۹۱۶ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. د ترقي لومړنی ښوونځی ئې لوستی، او په ۱۹۲۹ز کال کې د ښوونکو په کالج/ دارالمعلمینو کې شامل او په ۱۹۳۵ز کال کې فارغ سو. په بېلابېلو ښوونځیو کې ښوونکی او د ښوونځیو مدیر. د لیکلو د ښوونځي [8] مرستیال مدیر. شاعر او لیکوال.

## ډاکټر عبدالحکیم ضیایي

د سردار عزیز الله قتیل زوی او د سردار نصرالله خان لمسی په ۱۹۱۵ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. د استقلال له ښوونځي څخه فارغ سوی دئ. په ۱۹۳۵ز کال کې ئې خپله ماستري په ښووني او روزني او سوسیالوژی کې له توکیو څخه تر لاسه کړې ده؛ او خپله دکتورا ئې د پاریس – ژ د سوربون له پوهنتون څخه تر لاسه کړې ده. په ۱۹۶۴ز کال کې د معارف د وزارت مرستیال وزیر. د کابل پوهنتون د اقتصاد د پوهنځي او د حقوقو د پوهنځي رئیس. په ۱۹۴۷ز کال کې د معارف د وزارت د ثانوي تدریساتو د ریاست رئیس. د لوړو او مسلکي زده کړو د ریاست رئیس. له ۱۹۶۵ تر ۱۹۶۷ز کال پورې د پلان وزیر. په ۱۹۶۷ز کال کې قاضي القضات او د ستري محکمې رئیس. د داؤود د ۱۹۷۳ز کال د جهوریت له راتلو وروسته کومه رسمي دنده نـهٔ لري. د دري ژبې شاعر چې صوفیانه اړخ لري. د سعدالله غوثي له خور سعدیې سره ئې وادهٔ کړی دئ.

---

[8] -School of writing

## ډاکټر عبدالله ضيايي

د عبدالحکيم زوی او د سردار عزيزالله قتيل لمسی په ۱۹۵۳ز کال کې په فرانسې کې زېږېدلی دئ. لومړنۍ زده کړې ئـې د استقلال په ليسې کې او منځنۍ ښوونځی ئـې د «سويتزرلند د لوزان د جکارډ په ليسې» [9] کې لوستی دئ. په ۱۹۷۲ز کال کې ئـې فرانسوي بکلوريا تر لاسه کړه او ۱۹۷۶ز کال کې ئـې خپل ليسانس په سياسي علومو کې او په ۱۹۸۰ز کال کې ئـې خپله دکتورا په اقتصادي پلان جوړونه کې د فرانسې د «ګرنوبل» [10] له پوهنتون څخه تر لاسه کړه. له ۱۹۸۱ز کال راهيسې د نړۍ وال سور صليب کارمند. مورنۍ ژبه ئـې دري ده.

**نور بيا**

## عبدالرحيم قتيل ضيايي

د عزيز الله قتيل زوی ، د عبدالرزاق ضيايي ناسکه ورور، په ۱۹۱۶ز کال کې...

قدرمنو لوستونکو! د ښاغلي رحمت آريا د آرشيف: لينک

[9] -Lycee Jaccard in Lausanne, Switzerland
[10] -Grenoble


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ